صاحب امتیاز: مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت
شماره تماس: ۰۲۰۲۱۰۰۶۳۳
ایمیل: info@gmic.gov.af
ویب سایت: www.gmic.gov.af
آدرس: قصر مرمرین، روبروی وزارت خارجه، کابل - افغانستان

# آرپانه



شماره ۱۰۱
د افغانستان اسلامي امارت، د رياست الوزراء مقام د دفتر عمومي رياست، د ویاند دفتر، د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو مرکز
د تأسيس کال: ۱۴۴۳ هجري قمري - ۱۴۰۰ هجري شمسي - 2021 میلادي | د چاپ نېټه: شعبان المعظم ۲۸، کال ۱۴۴۷ هجري قمري

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند: افغانستان نه چا ته ضرر رسول غواړي او نه يې له چا مني

۵

## جلسهٔ کمیتهٔ ملی حج و عمره، تدویر یافت

۵

## لوګر کې ۲۹۰ ښوونځيو ته د درسي کتابونو د وېش لړۍ پيل شوه

۵

**سرمقاله**

## د اسلامي اصولو په رڼا کې د ښځو د حقونو خونديتوب او د ټولنيز ثبات پياوړتيا

په هره اسلامي ټولنه کې د ښځې مقام يوازې يو ټولنيز عنوان نه، بلکې يو شرعي او اخلاقي اصل دی چې د عدالت، کرامت او انساني درناوي پر بنسټ ولاړ دی. اسلام ښځه د ټولنې د بنسټيز رکن په توګه پېژني او د هغې د حقونو، عزت او خونديتوب لپاره واضح چوکاټ ټاکي. افغانستان چې خپل ټولنيز او حقوقي جوړښت يې د اسلامي ارزښتونو پر بنسټ ولاړ دی، طبيعي ده چې د ښځو د حقونو تعريف او تطبيق هم د همدې اصولو په رڼا کې ترسره کېږي.
په دې چوکاټ کې، د اسلامي امارت له لوري د ښځو د شرعي حقونو پر خونديتوب ټينګار د يوې پراخې ټولنيزې تګلارې برخه ده. د نکاح، مهر، ميراث او کورني ژوند اړوند حقونه يوازې حقوقي موضوعات نه دي؛ دا د کورنۍ د ثبات او ټولنيز نظم د ساتنې مهم عناصر ګڼل کېږي. د جبري ودونو، کورني تاوتريخوالي او ظلم پر وړاندې اقدامات ښيي چې د حقونو تأمين کول د ټولنې د اخلاقي سلامتۍ لپاره حياتي ارزښت لري.
د وروستيو عملي اقداماتو شمېرې ښيي چې د ښځو د حقونو د خونديتوب په برخه کې مشخص او عملي ګامونه اخيستل شوي دي. د راپورونو له مخې، د ۱۴۰۴ هجري لمريز کال په ترڅ کې د شاوخوا ۲۰۰۰ ښځو د ميراث حقونه تثبيت شوي او نږدې ۲۵۰۰ ښځې له کورني تاوتريخوالي څخه ژغورل شوې دي.
سربېره پر دې، د شاوخوا ۱۵۰۰ اجباري ودونو مخنيوی شوی او له ۶۰۰۰ څخه زياتو هغو ښځو ته چې له رواني ستونزو سره مخ وې، د درملنې زمينه برابره شوې ده. همداراز، نږدې ۲۵۰۰ کورنۍ شخړې حل شوې او د عامه پوهاوي په موخه شاوخوا ۱۱۰۰۰ اصلاحي ناستې ترسره شوې دي.
دا ډول ګامونه د کورنيو ترمنځ شخړې راکموي، د باور فضا پياوړې کوي او د ټولنيز ثبات بنسټ ټينګوي. ورسره، د رواني ستونزو لرونکو ښځو...

۲

### د کرنې او مالدارۍ سکټور د پراختيا

# ملي پاليسي او د کبانو روزنې سکټور د پراختيا

### طرحه تاييد شوه






د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسيون نوبتي غونډه په مرمرينه ماڼۍ کې جوړه شوه.
غونډې ته د کرنې او مالدارۍ سکټور د پراختيا ملي پاليسي وړاندې او له بحث وروسته تاييد شوه.
د کرنې او مالدارۍ سکټور ميکانيزه کول، د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ د څېړنيزو او ترويجي سيستمونو پراختيا، د اوبولګونې سيستمونو مديريت،...

۲

## د افغانستان برېښنا شرکت او عزيزي انرژۍ پانګونې شرکت ترمنځ د برېښنا توليد د پنځو مهمو پروژو د عملي چارو د پيل تړونونه لاسليک شول







د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو په مرکز کې، د افغانستان برېښنا شرکت او عزيزي انرژۍ پانګونې شرکت ترمنځ د ۸۴۵ مېګاواټه په ظرفيت د برېښنا توليد د پنځو مهمو پروژو د عملي چارو د پيل تړونونه لاسليک شول. د دې تړونونو له مخې به...

۲

## وزارت کار و امور اجتماعی: بیش از ۸۵ هزار نفر سال گذشته جواز کار دریافت کردند

۵

## حل ۸ منازعه و دشمنی میان اقوام و خانواده ها در ۵ ولایت

۵

### رمضان؛ ماه تزکیه، آگاهی و مسئولیت رسانه‌ها

ماه مبارک رمضان تنها موسم عبادت فردی نیست، بل فصلی است برای بیداری جمعی، اصلاح فکر و تقویت اخلاق اجتماعی. در چنین فضایی، مسئولیت رسانه‌ها دوچندان می‌گردد؛ زیرا رسانه، زبان جامعه و آیینه افکار عامه است. رسانه‌ها در رمضان باید پیام‌آور رحمت، همدلی، وحدت و بیداری باشند؛ نه مروج تفرقه، اسراف در محتوا و سرگرمی‌های بی‌هدف. نشر برنامه‌های دینی، اخلاقی، تربیتی و روشنگرانه، برجسته‌سازی فرهنگ انفاق و دستگیری از نیازمندان، و تقویت روحیه امید و اخوت از مهم‌ترین رسالت‌های رسانه‌ای در این ماه پرفیض است. رمضان فرصت طلایی است تا رسانه‌ها با مدیریت محتوا، اصلاح گفتمان و جهت‌دهی سالم افکار، نقش خویش را در تعالی معنوی جامعه ایفا نمایند؛ چه آن‌که یک پیام سنجیده می‌تواند دل‌ها را به خیر رهنمون سازد و یک غفلت رسانه‌ای ممکن است (خدانخواسته) حرمت این ماه عظیم را خدشه‌دار کند.

مولوی نعیم الحق حقانی
رئیس مرکز اطلاعات و رسانه‌های حکومت

## سرمقاله

# د اسلامي اصولو په رڼا کې د ښځو د حقونو خوندیتوب او د ټولنیز ثبات پیاوړتیا

...پېژندنه او درملنې ته د هغوی لاسرسی د دې ښکارندويي کوي چې ټولنیز مسئولیت یوازې حقوقي نه، بلکې انساني بُعد هم لري. د پوهاوي پروګرامونه په دې بهیر کې ځانګړې اهمیت لري. کله چې کورنۍ او ټولنه د ښځو د شرعي حقونو په اړه روښانه پوهه ترلاسه کړي، ناسم دودونه کمزوري کېږي او د متقابل احترام فرهنګ پیاوړی کېږي.

حقیقت دا دی چې د ټولنې سالمه وده هغه مهال ممکنه ده چې عدالت، کرامت او مسئولیت په ګډه عملي شي. د ښځو د حقونو خوندیتوب یوازې یو اداري مکلفیت نه، بلکې یو ملي او اسلامي وجیبه ده چې د کورنیو ثبات او ټولنیزې همغږۍ تضمینوي. که دا هڅې دوام ومومي او د ټولنې فعاله همکاري ورسره مل وي، نو د عدالت او متقابل درناوي پر بنسټ به د یوې باثباته او سالمې ټولنې زمینه لا پیاوړې شي.

# د کار عالي شورا نوبتي ناسته ترسره شوه

د کار او ټولنیزو چارو وزیر محترم الحاج ملا عبدالمنان عمري په مشرۍ؛ د کار عالي شورا څلورمه نوبتي ناسته ترسره شوه.

د ناستې په پیل کې محترم الحاج ملا عبدالمنان عمري په خپلو خبرو کې د کار عالي شورا د ارزښت سربېره وویل: د هېواد په سطحه د کارپنځونې په محور د ملي اقتصادي ودې، د خصوصي سکتور د بېلابېلو برخو ترمنځ د غوره همغږۍ، د داخلي تولیداتو پر پراختیا، د صادراتو د کچې لوړولو او پر وړاندې یې د شته ستونزو د تشخیص، د کم کیفیته توکو له وارداتو څخه د مخنیوي پر څرنګوالي، د نړیوالو کاري معیارونو تطبیق، د کار بازار د تنظیم او د کارګرو د مزد او د مزد د څرنګوالي په اړه تفصلي خبرې وکړې.

د کار او ټولنیزو چارو وزیر زیاته کړه، چې په هېواد کې د بېکارۍ د کچې په راټیټولو او هېوادوالو ته په بېلابېلو برخو کې د کارموندنې په موخه د کرنې، مالدارۍ او بولګولو، د کانونو او پټرولیم او د صنعت او سوداګرۍ وزارتونو او خصوصي سکتور سره په ګډه یوه تخنیکي کمېټه رامنځته شي.

د ناستې په پای کې د ټولو اړخونو له لوري پرېکړه وشوه، چې د کار عالي شورا به د منظمې همغږۍ او دوامداره ناستو له لارې د کاري اړیکو د تنظیم، د ټولنیز عدالت د ټینګښت او د ملي اقتصاد د پیاوړتیا لپاره خپلې هڅې لا ګړندی کړي.

# ننګرهار ولایت کې د ککړک عمومي کانال د تحکیماتي دېوال پروژې چارې ۹۸ سلنه بشپړې شوې دي



د ننګرهار د اوبو او انرژي ریاست او د آی، او، ام اداري تخنیکي ټیمونو په دغه ولایت کې د ککړک عمومي کانال د تحکیماتي دېوال پروژې د چارو له بهیر څخه څارنه وکړه او اړوندو مسئولینو ته یې اړینې لارښوونې وکړې.

د نوموړې پروژې چارې ۹۸ سلنه بشپړې شوې او پاتې چارې به یې ډېر ژر بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

د دغې پروژې ګټې ته په سپارلو سره به سلګونه جریبه کرنیزې ځمکې خړوبې او د سیمې د خلکو اقتصاد کې به د پام وړ مثبت بدلون رامنځته شي.

## د کرنې او مالدارۍ سکتور د پراختیا

# ملي پالیسي او د کبانو روزنې...





...د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ په برخو کې د پانګونې ملاتړ او باکیفیته کرنیزو او حیواني محصولاتو ته د خلکو لاسرسی د دې پالیسۍ اساسي موخې دي.

همدارنګه په دې غونډه کې د کبانو روزنې سکټور د پراختیا پر طرحه هم بحث ترسره او تایید شوه. د دې طرحې له مخې به د هېواد په مختلفو سکټورونو کې د خصوصي سکټور د پانګونې له لارې په ۶۵۰۰ هکتاره ځمکه د کبانو د تولید او روزنې ۷۷۰۰ کوچنې، متوسط او لوی فارمونه جوړ شي.

د دې طرحې په تطبیق سره به په مستقیم ډول ۵۰ زره او په غیر مستقیم ډول به ۲۵۰ زره هېوادوالو ته د کار زمینه برابره شي.

همدارنګه د غونډې په پای کې د یو شمېر تعقیبي موضوعاتو راپورونه هم وړاندې شول، چې په اړه یې اړوندو ادارو ته لازمې سپارښتنې وشوې.

یادې پرېکړې د نهایي تصمیم په موخه د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی دفتر ته واستول شوې.

# د افغانستان برېښنا شرکت او عزیزي انرژۍ پانګونې شرکت ترمنځ د برېښنا تولید د پنځو مهمو پروژو د عملي...

...د عزیزي انرژۍ پانګونې شرکت د کابل ولایت په نغلو سیمه کې ۱۰۰ مېګاواټه لمریزه برېښنا، د پروان ولایت په باریکاب سیمه کې ۱۰۰ مېګاواټه لمریزه برېښنا، په غزني ولایت کې ۱۳۰ مېګاواټه لمریزه برېښنا او همدارنګه په تخار ولایت کې ۱۶۵ مېګاواټه او په بغلان ولایت کې ۳۵۰ مېګاواټه د ډبرو سکرو برېښنا تولید کړي.

په یادو پروژو شاوخوا ۴۶۳ میلیون ډالر پانګونه کېږي، چې د لمریزې برېښنا پروژې به په دوه کلونو او د ډبرو سکرو پروژې به په درېیو کلونو کې بشپړې شي.

# بهرنیو پانګوالو ته په افغانستان کې د پانګونې په مقابل کې د اقامو پر ورکړه بحث وشو

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوه.

دې غونډې ته بهرنیو پانګوالو ته په افغانستان کې د پانګونې په مقابل کې له یو تر لسو کلونو پورې د افغانستان د اقامې د ورکړې موضوع د بحث لپاره وړاندې شوه. له بحث وروسته موضوع تایید او په دې اړه ټاکل شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو د پانګونې مقدار ته په کتو د اقامې د ورکړې وخت په کټه‌ګوریو ووېشي او د موضوع د ټولو اړخونو په پام کې نیولو سره خپل راپور د اقتصادي کمېسیون راتلونکي مجلس ته وړاندې کړي.

همدارنګه په دې غونډه کې د هېواد په ګمرکونو کې د تیر (TIR) عملیې د پیل او پای د پلي کېدو پر موضوع هم بحث وشو. د دې موضوع د هراړخیزې ارزونې په اړه کمېټه وټاکل شوه، څو خپل راپور په ټاکلي وخت اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي.

همداراز د غونډې په پای کې د لاله او صدف ښارګوټو په اړه ټاکل شوو کمېټو د خپلو ارزونو راپورونه وړاندې کړل. د یادو راپورونو په پام کې نیولو سره له اړوندو ادارو څخه ټاکل شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو د یادو ښارګوټو موضوعات په هراړخیز ډول وڅېړي او راپورونه یې له اقتصادي کمېسیون سره شریک کړي.

# د شفلوغ بند ودانیزې چارې ۱۲ سلنه او د آغاجان بند د مطالعاتو چارې ۸۵ سلنه پرمخ تللې دي

د اوبو او انرژۍ وزارت مسئولینو د دغه ولایت اړوند په چنارتو ولسوالۍ کې د شفلوغ بند د ودانیزو چارو او د آغاجان بند د جیوتخنیک مطالعاتو د چارو له بهیر څخه څارنه وکړه او اړوندو مسئولینو ته یې اړینې لارښوونې وکړې.

د معلوماتو له مخې، د شفلوغ بند ودانیزې چارې ۱۲ سلنه او د آغاجان بند د جیوتخنیک مطالعاتو چارې کابو ۸۵ سلنه پرمخ تللې دي.

د یادونې وړ ده، چې شفلوغ بند د ۸۷۰ زره متره مکعب اوبو د زېرمه کولو او د آغاجان بند د ۷۰ میلیون متره مکعب اوبو د زېرمه کولو وړتیا لري.

# تفاهم‌نامه همکاری میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و کمیته بین‌المللی نجات به امضا رسید

محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، رئیس عمومی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، در دفتر کاری خویش با خانم لیزا مارگارت اوون، رئیس کمیته بین‌المللی نجات (IRC) و هیأت همراهش دیدار و تفاهم‌نامه همکاری‌های مشترک را به امضا رسانید.

در آغاز این دیدار، محترم ترابی ضمن خوش‌آمدیدگویی به هیأت اشتراک‌کننده اظهار داشت که با توجه به این‌که بخشی از پروژه‌های تطبیقی شما با فصل زمستان مرتبط می‌باشد، لازم است این پروژه‌ها قبل از پایان فصل زمستان و به‌گونه شفاف تطبیق گردد. همچنان وی افزود که این اداره به‌منظور تطبیق بهتر پروژه‌های مؤسسات کمک‌رسان، سهولت‌های قابل ملاحظه‌ای را فراهم ساخته و در صورت مواجه‌شدن با هرگونه مشکل در سایر ادارات امارتی، می‌توانند موضوع را با این اداره شریک سازند تا در حد امکان حل‌وفصل گردد.

متعاقباً، خانم لیزا مارگارت اوون از رئیس عمومی این اداره از همکاری های مداوم قدردانی نموده، ضمن ارائه معلومات پیرامون پروژه‌های تطبیقی، اطمینان داد که این پروژه‌ها به‌صورت عاجل و شفاف تطبیق خواهد شد.

در پایان این دیدار، تفاهم‌نامه همکاری میان دو طرف به ارزش مجموعی ۶۵۰ هزار دالر به امضا رسید. بر اساس این تفاهم نامه، در ولسوالی‌های سوکی و نورگل ولایت کنر مجموعاً برای ۱۴۱۵ فامیل نیازمند بسته های مواد غذایی و برای ۱۶۶۵ فامیل نیازمند دیگر لباس های زمستانی توزیع خواهد شد.

# دیدار رئیس عمومی دفتر مقام ریاست الوزراء با مسئولین اتحادیه پوهنتون...

...محترم داکتر ملا عبدالواسع رئیس عمومی دفتر مقام ریاست الوزراء ضمن خوش آمدید به آنان، گفت که پوهنتون ها و نهادهای تعلیمی نقش مهمی در پیشرفت، رفاه و ارتقای ظرفیت جامعه دارند.

محترم داکتر ملا عبدالواسع خطاب به آنان گفت که هدف و ارادۀ شما باید تجارت نه، بلکه خدمت به ملت رنج دیده افغانستان باشد، زیرا رسانیدن علم رسالت مشترک ما و شما است و آنرا صادقانه انجام دهیم. در اخیر این دیدار رئیس عمومی دفتر مقام ریاست الوزراء به آنان اطمینان داد که خواست ها و پیشنهادات شان به منظور حل، با ارگان های مربوطه شریک خواهد شد.

PANA
ARG
Islamic Emirate of Afghanistan
Govt. Media and Information Center
www.gmic.gov.af
Issue #101

Publish By:
Government Media and Information Center (GMIC)
Contact Number:
93+ (0) 202100633
Email:
info@gmic.gov.af
Address:
Marble Palace, Opposite to the Ministry of Foriegn Affairs, Kabul, Afghanistan

# National Policy for Agricultural and Livestock Sector Development Approved; Aquaculture Development Plan Endorsed




The Economic Commission convened under the chairmanship of Deputy Prime Minister for Economic Affairs, Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund at the Marble Palace. During the session, the national policy for the development of the agriculture and livestock sector was presented and approved following deliberation.

Key objectives of the policy include mechanization of agriculture and livestock operations, expansion of research and extension systems,...ContP#4

# Contracts Signed for Five Major Power Generation Projects





In the presence of Deputy Prime Minister for Economic Affairs Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, Da Afghanistan Breshna Sherkat (DABS) and Azizi Energy Investment Company signed agreements to commence five major electricity generation projects totaling 845 megawatts...ContP#4

# More Than AFN 64 Million Compensated to Affected Landowners Along Herat–Khawaf Railway

Local officials in Herat reported that over 64 million Afghanis have been paid as compensation to landowners affected by land acquisition for the Herat–Khawaf railway project.

According to the provincial spokesperson, delegation of the Ministry of Public Works briefed the governor on compensation payments related to Phase Two of the railway's fourth segment. A total of 152 affected parties were identified in Zenda Jan, Injil, and Guzara districts. Of these, 140 were private individuals...ContP#4

# Ministry of Labor: Over 85,000 Individuals Issued Work Permits Last Year

The spokesperson for the Ministry of Labor and Social Affairs announced that vocational and technical training opportunities were provided to more than 20,000 citizens across various professional fields.

Samiullah Ibrahimi, spokesperson for the ministry, further stated that during the solar year 1404, over 85,000 work permits were issued to both Afghan citizens and foreign nationals.

Officials of the ministry also confirmed that discussions have been held with relevant authorities in Iran, Russia, the United Arab Emirates, Saudi Arabia, and Oman to facilitate the deployment of Afghan workers abroad.

## Editorial

# Protecting Afghan Women: Justice, Dignity, Stability

In every Islamic society, the status of women is not merely a social designation but a Shariah and moral principle founded on justice, dignity, and human respect. Islam recognizes women as foundational pillars of society and provides a clear framework to safeguard their rights, honor, and protection. Afghanistan, whose social and legal structures are rooted in Islamic values, naturally defines and implements women's rights within the same framework.

Within this context, the Islamic Emirate's emphasis on protecting women's Shariah rights forms an integral part of a broader social policy. Rights related to marriage, dowry, inheritance, and family life are not merely legal matters; they are essential elements for maintaining family stability and social order. Measures to prevent forced marriages, domestic violence, and oppression demonstrate that protecting rights is vital for the moral integrity of society.

Recent practical measures indicate that concrete steps have been taken to safeguard women's rights. According to reports, during Solar Year 1404, approximately 2,000 women's inheritance rights were confirmed, and nearly 2,500 women were rescued from domestic violence.

Furthermore, around 1,500 forced marriages were prevented, and access to treatment was provided for more than 6,000 women experiencing psychological difficulties. In addition, nearly 2,500 family disputes were resolved, and approximately 11,000 sessions were conducted to raise public awareness.

These efforts reduce family conflicts, foster trust, and lay the foundation for social stability. Identifying and treating women with psychological challenges reflects that social responsibility encompasses not only legal obligations but also a human dimension. Awareness programs play a particularly important role in this process. When families and communities gain a clear understanding of women's Shariah rights, harmful practices are diminished, and a culture of mutual respect is strengthened.

The reality is that the healthy development of society is possible only when justice, dignity, and responsibility are practiced together. Protecting women's rights is not merely an administrative duty but a national and Islamic responsibility that ensures family stability and social cohesion. If these efforts continue and receive active community support, the foundation for a stable and healthy society; based on justice and mutual respect; will be further strengthened.

# National Policy for Agricultural and Livestock Sector Development Approved; Aquaculture Development...

...improved irrigation management, support for investment in the sector, and enhanced public access to quality agricultural and husbandry products.
The commission also approved a development plan for the aquaculture sector, which envisions the establishment of 7,700 small, medium, and large fish farms across 6,500 hectares through private sector investment. The plan is expected to create approximately 50,000 direct jobs and 250,000 indirect employment opportunities.
Reports on several follow-up matters were also presented, with necessary recommendations issued to relevant institutions. The decisions were forwarded to the Office of the Supreme Leader of the Islamic Emirate for final approval.

# Contracts Signed for Five Major Power...

...The projects include solar plants in Kabul (100 MW), Parwan (100 MW), and Ghazni (130 MW), as well as coal-fired plants in Takhar (165 MW) and Baghlan (350 MW). With an estimated investment of USD 463 million, the solar projects are scheduled for completion within two years, while the coal projects are expected to be finalized within three years.

# Eight Tribal and Family Disputes Resolved Across Five Provinces

Personnel from the Ministry of Vice and Virtue and Complaints Handling, successfully mediated and resolved eight disputes involving tribal and family conflicts in Kabul, Parwan, Takhar, Nimroz, and Daikundi provinces.
These disputes stemmed from family disagreements, tribal conflicts, inheritance issues, and social misunderstandings. Through mediation, ministry representatives encouraged reconciliation in accordance with Islamic principles, resulting in the full resolution of six disputes and two long-standing hostilities.

# More Than AFN 64 Million Compensated to Affected Landowners Along...



... and 12 involved state lands.
An overall allocation of AFN 187 million has been designated for compensation, with AFN 64,188,433 already disbursed to 134 beneficiaries.

# Nearly 1,200 Trainees Graduate from Technical and Vocational Programs in Khost

During a ceremony marking the occasion, Mawlavi Mahboob Shah Qanit, Deputy Governor of Khost, commended the implementation of the program, describing it as an effective and positive step toward creating employment opportunities for trainees. He congratulated the graduates and encouraged them to utilize their acquired skills in serving the community while motivating other youth to pursue vocational education.
Similarly, Mawlavi Mohammad Zahid Ahmadzai, Deputy Minister for Labor and Social Affairs, stated that for the first time in Khost Province, nearly 1,200 trainees completed theoretical and practical training in six different professions, receiving graduation certificates and work equipment. The deputy minister added that, in accordance with directives from the Supreme Leader of the Islamic Emirate, the ministry has launched vocational training programs for disabled Mujahideen and has also provided training opportunities for rehabilitated individuals recovering from addiction across several provinces. Officials report that so far, approximately 10,000 individuals have benefited from these initiatives.

# 100-Kilowatt Solar Power Project Commissioned in Paktika

A 100-kilowatt solar energy project in Zargun District of Paktika Province was officially inaugurated in the presence of local authorities. The project was implemented by a private company under the supervision of the provincial Directorate of Water and Energy, in cooperation with the Directorate of Industry and Commerce.

# Cooperation Agreement Signed Between Disaster Preparedness Authority and IRC

Mullah Nooruddin Turabi, Director General of the National Disaster Preparedness Authority, met with Lisa Margaret Owen, head of the International Rescue Committee (IRC), resulting in the signing of a cooperation agreement.
During the meeting, Mr. Turabi emphasized the timely and transparent implementation of winter-related projects and reaffirmed the authority's commitment to facilitating humanitarian operations. Ms. Owen expressed appreciation for ongoing cooperation and assured prompt execution of planned projects.
The agreement, valued at USD 650,000, provides food packages for 1,415 vulnerable families and winter clothing for 1,665 families in the Sawkai and Nurgal districts of Kunar Province.

# Distribution of Books Begins for 290 Schools in Logar

According to Bakhtar News Agency, Books and educational materials valued at approximately two million Afghanis have begun distribution to 290 schools under the supervision of the Logar Directorate of Education.
The materials include 147,000 books for grades three through six, along with seven categories of instructional supplies, to be delivered through district education offices.

# Food Assistance Delivered to 277 Returnee Families in Kunar



The National Disaster Preparedness Authority distributed food assistance to 277 returnee families in the Chapa Dara, Dara-e-Pech, and Wata Pur districts of Kunar Province.
Each family received 10 kilograms of rice, 5 liters of cooking oil, two cartons of dates, canned food items, and an assorted food package.

# با ۲۷۷ فامیل عودت کننده در ولایت کنر مساعدت صورت گرفت

اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث به ۲۷۷ فامیل عودت کننده در ولسوالی های چپه دره، دره پیچ و وته پور ولایت کنر، مساعدت غذایی توزیع نمود.
در این روند، برای هر فامیل ۱۰ کیلوگرام برنج، ۵ لیتر روغن، ۲ کارتن خرما، مواد غذایی در کنسرها و یک بسته مواد غذایی که شامل اقلام مختلف خوراکی بود، توزیع گردید.

# لوګر کې ۲۹۰ ښوونځیو ته د درسي کتابونو د وېش لړۍ...

...باختر آژانس: دغه درسي کتابونه او درسي مواد شاوخوا ۲ میلیونه افغانۍ ارزښت لري، چې د لوګر د پوهنې ریاست لخوا یې پر ۲۹۰ ښوونځیو د وېش لړۍ پیل شوه.
د یاد ولایت د پوهنې ریاست مسئولین وايي، چې په دغو درسي کتابونو کې له درېیم ټولګي نه تر شپږم ټولګي پورې ۱۴۷ زره درسي کتابونه او ۷ قلمه درسي مواد شامل دي، چې د مرکز او ولسوالیو د پوهنې آمریتونو له لارې به پر ۲۹۰ ښوونځیو ووېشل شي.

# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د عزیزي ګروپ شرکتونو له...

...د افغانستان په خاوره کې د تاپي پروژې کارونه په ښه ډول مخ ته روان دي، چې هرات ولایت ته د ګازو په را رسېدو سره به له کانونو او پټرولیم وزارت سره په همغږۍ د ګازو لوېې شبکې او له ګازو څخه د برېښنا تولید د ۳۰۰۰ مېګاواټه په ظرفیت د لوېې فابریکې د جوړېدو کارونه پیل کړي.
هغه همداراز د طبیعي ګازو او ډبرو سکرو د اکتشاف، استخراج او له هغه څخه د برېښنا تولید په برخه کې له اړوندو ادارو سره د ګډ کار کولو غوښتنه وکړه.
د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال او اړوندو ادارو مسئولینو په یادو برخو کې د پوره همکارۍ او ګډ کار اطمینان ورکړ.

# د ریاست الوزراء مقام د دفتر عمومي رئیس د افغانستان صرافانو او پولي...

...کې د صرافانو هڅې د ستاینې وړ دي او په وینا یې شهزاده سرای چې په ټول ملت پورې اړه لري ، هلته د نظم او اصلاحاتو راتګ، د هیواد پر اقتصاد مثبت اغېز لري ، نو د خپل مقام او حیثیت ساتلو ته یې باید لا زیات پام وشي.
نوموړي د افغانستان د صرافانو او پولي خدمتونو اتحادیې له مسئولینو او غړو وغوښتل چې خپلمنځي مسایل په اتفاق، نرمي او یو د بل په همکاري حل کړي، څومره چې متقابل درناوی موجود وي، نو هغومره به ستونزې او مسایل کم وي.
همدارنګه یې هغوی ته ډاډ ورکړ چې پر غوښتنو او وړاندیزونو به یې غور وشي.

# دیدار رئیس عمومی دفتر مقام ریاست الوزراء با بزرگان و...

...محترم داکتر ملا عبدالواسع رئیس عمومی دفتر مقام ریاست الوزراء ضمن خوش آمدید به بزرگان هر دو ولسوالی، گفت که قربانی های مردم ولسوالی خاک افغان در پیروزی جهاد در برابر اشغال، قابل تقدیر است.
محترم داکتر ملا عبدالواسع با اشاره بر اینکه امارت اسلامی به انکشاف متوازن متعهد است، گفت که در حال حاضر در بخش های مختلف کشور کار پروژه های انکشافی جریان دارد و برای اعمار سرک های شهرها و شاهراه ها و خودکفایی اقتصادی، تلاش های قابل ملاحظه صورت گرفته است.
موصوف به بزرگان و متنفذین ولسوالی های متذکره اطمینان داد که بالای خواست ها و پیشنهادات شان غور صورت می گیرد و با ادارات مربوطه شریک خواهد شد.

# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند: افغانستان نه چا ته ضرر رسول غواړي او نه...

...د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د حضرت ابو عبیده بن جراح (رض) د ملي دفاع پوهنتون قوماندانۍ اړوند د حضرت معاذ بن جبل (رض) ملي نظامي اکاډمۍ د اوولسمې دورې په فراغت غونډه کې ګډون وکړ.
د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د نظامي اکاډمۍ په تربیتي دوره کې د مسلکي زده کړو ترڅنګ د ملي دفاع، ملي حاکمیت، ځمکنۍ بشپړتیا او سیاسي حاکمیت د اهمیت په اړه د زده کړو ترلاسه کولو له امله فارغانو ته مبارکي وویله او له هغوی یې وغوښتل، چې دا روحیه او زده کړه د اسلامي او لوړو افغاني ارزښتونو د ساتنې لپاره په عمل کې ثابته او د اسلامي نظام او خاورې له لوېشت لوېشت څخه په کلکه دفاع وکړي.
محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د نیتونو پر اصلاح، د تقوا پر اختیارولو او د هېوادوالو پر خیال ساتلو هم ټینګار وکړ. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، اسلامي امارت د اقتصاد محوره سیاست په چوکاټ کې په سیمه ییز او نړیوال مشارکت باور لري او د خپلو اصولو په چوکاټ کې له هر هېواد سره تعامل ته ژمن دی.
هغه ټینګار وکړ، چې د اوږدمهاله سیاسي او اقتصادي ګټو د خوندي کولو لپاره لازمه ده څو هېوادونه د یو او بل ارزښتونو او حساسو حریمونو ته درناوی ولري.
محترم ملا عبدالغني برادر اخوند پانګوالو ته زیری ورکړ، چې په نږدې ورځو کې به اسلامي امارت کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته په نویو سکټورونو کې د پانګونې اندازې ته په کتو له یو تر پنځو کلونو پورې بشپړ مالیاتي معافیت اعلان کړي. د هغه په خبره، په دې سره به له یوه لوري نوي سکټورونه پرمختګ وکړي او له بل لوري به د هېواد په اقتصادي وده او خودکفایۍ کې د پام وړ اغېز ولري.
د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، د صنعت او سوداګرۍ وزارت ته جدي هدایات شوي چې د کوچني، متوسط او لوی صنعت لپاره د ځمکو د توزیع پروسه ګړندۍ او لازم امکانات ورته برابر کړي.
د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال همداراز وویل، چې د اسلامي امارت سیاست کاذب نه دی او نني افغانستان خپلې پالیسۍ پر هغو نهادونو بناء کړې دي، چې اساس یې اسلامي شریعت دی. هغه زیاته کړه: افغانستان نه چا ته ضرر رسول غواړي او نه یې له چا مني. خو که څوک ناوړې ارادې ورته لري، نو بیا خپل پور چا ته نه پرېږدي. تاریخ ګواه دی چې دا هېواد غوړه ګوله نه؛ بلکې د زقوم ونه ده؛ د مُعَمَّرو امپراتوریو مرۍ یې ور ترخې کړې، نو مولود ماشومان به یې هېڅکله هضم نه سي کړای.
په پای کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال له ټولو هېوادونو وغوښتل چې د اسلامي امارت د ارزښتونو او اصولو په چوکاټ کې دې له افغانستان سره د تعامل هڅه وکړي او هغه انرژي او امکانات چې د یو او بل په تخریب ضایع کېږي، ښه ده چې د یو او بل په ملاتړ او د مشترکو ټکو په پیاوړي کولو مصرف شي.

# وزارت کار و امور اجتماعی: بیش از ۸۵ هزار نفر سال گذشته جواز...

...سخنگوی وزارت کار و امور اجتماعی می‌گوید برای بیش از ۲۰ هزار تن از شهروندان، در رشته‌های گوناگون فنی و حرفه‌ای، زمینه آموزش فراهم شده است.
سمیع‌الله ابراهیمی سخنگوی این وزارت همچنان می افزاید، که در جریان سال ۱۴۰۴ هجری شمسی برای بیش از ۸۵ هزار تن از شهروندان کشور و اتباع خارجی جواز کار نیز توزیع شده است.
مسئولان در وزارت کار و امور اجتماعی می گویند، که با مقام‌های مسئول در کشورهای ایران، روسیه، امارات‌متحده‌عربی، عربستان‌سعودی و عمان نیز گفت‌وگوهایی به‌هدف اعزام کارگران صورت گرفته است.

# حل ۸ منازعه و دشمنی میان اقوام و خانواده ها در...

...منسوبین وزارت امر بالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات در راستای تحکیم همبستگی اسلامی، تأمین صلح اجتماعی و حل منازعات و دشمنی ها میان اقوام و خانواده ها، ۸ مورد منازعه و دشمنی را در ولایت های کابل، پروان، تخار، نیمروز و دایکندی به گونه مسالمت آمیز حل و فصل نموده اند.
این منازعات و دشمنی ها در اثر اختلافات خانوادگی، نزاع های قومی، مسائل مرتبط با تقسیم میراث و سوء تفاهمات اجتماعی به وجود آمده بود. منسوبین این وزارت با میانجیگری، طرف های دخیل را به صلح، تفاهم و رعایت اصول شرعی تشویق نموده و در نهایت شش منازعه و دو دشمنی به گونه کامل خاتمه یافت.

# فراغت نزدیک به ۱۲۰۰ کارآموز از آموزش‌های فنی و...

...در راستای ایجاد فرصت‌های شغلی برای کارآموزان، مؤثر و مثبت ارزیابی نمود. وی ضمن تبریک به فارغان، از آنان خواست تا با بهره‌گیری از آموخته‌های خویش، در خدمت‌رسانی به مردم سهیم شده و دیگر جوانان را نیز به فراگیری آموزش‌ها تشویق نمایند.
به همین ترتیب، محترم الحاج مولوی محمد زاهد احمدزی معین امور کار، گفت که برای نخستین‌بار در ولایت خوست، نزدیک به ۱۲۰۰ کارآموز پس از فراگیری آموزش‌های نظری و عملی در شش حرفه‌ای مختلف، فارغ و سند فراغت و وسایل کاری دریافت نمودند.
معین وزارت کار و امور اجتماعی افزود، بر اساس هدایت عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی، این وزارت برنامهٔ آموزش‌های فنی و حرفه‌ای را برای مجاهدین معلول راه‌اندازی کرده و هم‌چنان زمینهٔ آموزش را برای معتادین صحت‌یاب شده در ولایت‌های مختلف کشور فراهم ساخته است. به گفته مسئولان این وزارت، تاکنون حدود ۱۰ هزار تن از این برنامه‌ها مستفید شده‌اند.

# په ننګرهار ولایت کې د اوبو رسولو دوه شبکې ګټې...

...د ننګرهار ولایت د کلیو د بیارغونې او پراختیا ریاست له لوري د دغه ولایت په بهسودو او سرخرود ولسوالیو کې د څه باندې ۵.۵ میلیونه افغانیو په لګښت د اوبو رسولو دوو شبکو رغنیزې چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.
په دغو شبکو کې د ۵.۵ کیلومترو په اوږدوالي پایپ غځول، د سولر تختو او ۱۷۵ شیردهنونو نښلول شامل دي.
د یادو شبکو د کار په بهیر کې لسګونه تنه کاریګرو ته د کار زمینه برابره شوې او په بشپړېدو سره یې د نوموړیو ولسوالیو ۳۰۰ کورنیو د څښاک پاکو اوبو ته لاسرسی پیدا کړ.

# بیش از ۶۴ میلیون افغانی به متضررین زمین‌های استملاکی...



...پژواک: مسؤولین محلی در ولایت هرات می‌گویند که بیش از ۶۴ میلیون افغانی به متضررین زمین‌های استملاکی خط آهن هرات – خواف پرداخت شده‌است.
سخنگوی مقام ولایت هرات گفته که هیأت موظف وزارت فواید عامه در دیدار با والی این ولایت گزارش پروسهٔ پرداخت‌های ساحات استملاکی فاز دوم خط آهن هرات – خواف را شریک کرده‌است.
وی تصریح کرده که براساس این گزارش، مجموعاً ۱۵۲ متضرر در مسیر فاز دوم قطعهٔ چهارم خط آهن هرات – خواف در ولسوالی‌های زنده‌جان، انجیل و گذرهٔ هرات شناسایی و تثبیت شده‌اند.
به گفتهٔ او، از مجموع متضررین ۱۴۰ تن اشخاص حقیقی و ۱۲ تن از زمین‌های امارتی می‌باشند که برای جبران خسارات و حق ملکیت اراضی مذکور مبلغ مجموعی ۱۸۷ میلیون افغانی تخصیص داده شده‌است.
موصوف اضافه کرده که تاکنون به ۱۳۴ متضرر مقدار ۶۴ میلیون و ۱۸۸ هزار و ۴۳۳ افغانی توزیع شده‌است.

# جلسهٔ کمیتهٔ ملی حج و عمره، تدویر...

جلسهٔ کمیتهٔ ملی حج و عمره تحت ریاست محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء و با اشتراک اعضای این کمیته دایر گردید.
در این جلسه، ابتدا محترم شیخ القرآن والحدیث مولوی دوکتور نور محمد ثاقب وزیر ارشاد، حج و اوقاف در مورد اجراآت آن وزارت پیرامون انتقال به‌موقع حجاج، اعزام معلمین جهت تعلیم مناسک حج و تنظیم اوقات پروازها گزارش ارائه نمود.
سپس روی تنظیم پروسهٔ حج و مراعات قوانین و اصول کشور میزبان توسط حجاج، بحث همه جانبه صورت گرفت.

امارت اسلامی افغانستان
مقام رياست الوزراء
رياست عمومی دفتر
دفتر سخنگو
مرکز اطلاعات و رسانه‌های حکومت

ارگ نامه

صاحب امتیاز: مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت
شماره تماس: ۰۲۰۲۱۰۰۶۳۳
ایمیل: info@gmic.gov.af
ویب سایت: www.gmic.gov.af
آدرس: قصر مرمرین، روبروی وزارت خارجه، کابل - افغانستان

# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د عزيزي ګروپ شرکتونو له عمومي رئيس ميرويس عزيزي سره وکتل

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په خپل کاري دفتر کې د عزيزي ګروپ شرکتونو له عمومي رئيس ميرويس عزيزي او د هغه له تخنيکي ټيم سره وکتل.
د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د عزيزي انرژی پانګوني شرکت له لوري د لس زره مېګاواټه پروژې اړوند د ۸۴۵ مېګاواټه په ظرفيت د برېښنا توليد د پنځو مهمو پروژو د عملي چارو د پيل هرکلی وکړ او دا يې په هېواد کې د کاري فرصتونو د ايجاد او اقتصادي ودې د پرمختګ په برخه کې مهمې وبللې.
ښاغلي ميرويس عزيزي د رياست‌الوزراء له اقتصادي مرستيال او د اړوندو ادارو له مسئولينو مننه وکړه، چې په ټولو برخو کې يې ورسره پوره همکاري کړې ده او له هېڅ ستونزې سره نه دي مخ شوي.
هغه وويل، دوی درک کړې چې اسلامي امارت د هېواد د ابادۍ کلک هوډ لري او دا دی د مخلصو مسئولينو د هڅو په پايله کې د برېښنا توليد د پنځو مهمو پروژو د عملي چارو د پيل تړونونه لاسليک شول.
محترم عزيزي زياته کړه، د روان کال تر پايه به د برېښنا توليد له ۱۵ تر ۲۰ نورې پروژې هم پيل کړي، چې مجموعي ظرفيت به يې پنځه زره مېګاواټه ته ورسېږي.
د عزيزي ګروپ شرکتونو عمومي رئيس خوښي څرګنده کړه، چې...

۵

# فراغت نزدیک به ۱۲۰۰ کارآموز از آموزش‌های فنی و حرفه‌ای در خوست

در مراسمی که به همین مناسبت برگزار شده بود، محترم مولوی محبوب‌شاه قانت معاون والی خوست، از تحقق این برنامه قدردانی کرد و آنرا...

۵

# د رياست الوزراء مقام د دفتر عمومي رئيس د افغانستان صرافانو او پولي خدمتونو اتحاديې مسئولينو سره وکتل

# دیدار رئیس عمومی دفتر مقام ریاست الوزراء با بزرگان و متنفذین ولسوالی های خاک افغان و جاغوری



د رياست الوزراء مقام د دفتر عمومي رئيس محترم ډاکټر ملا عبدالواسع د افغانستان د صرافانو او پولي خدمتونو اتحاديې رئيس، مرستيال او يو شمېر رهبري غړو سره وکتل.
په دې کتنه کې چې په ارګ کې ترسره شوه، په پيل کې د افغانستان د صرافانو او پولي خدمتونو اتحاديې رئيس الحاج بهرام خان ځدراڼ په دې کتنه خوښي څرګنده او مننه يې وکړه چې د هيواد د نورو اقشارو په څېر د دوی غوښتنې او وړانديزونه تل په غور اورېدل شوي او د حلولو لپاره يې دوامدارې هڅې شوې دي.
نوموړي د پولي خدمتونو په برخه کې د شهزاده سرای د صرافانو رول ته په اشارې د افغانۍ د ارزښت او ثبات په ساتلو کې د صرافانو د هلو ځلو يادونه وکړه او همدارنګه يې د يادې اتحاديې ځنې ستونزې او غوښتنې هم مطرح او په ليکلې بڼه شريکې کړې.
د رياست الوزراء مقام د دفتر عمومي رئيس محترم ډاکټر ملا عبدالواسع هغوی ته د ښه راغلاست پرمهال وويل، د افغانۍ د ارزښت او ثبات په ساتلو...

۵

محترم داکتر ملا عبدالواسع رئیس عمومی دفتر مقام ریاست الوزراء با بزرگان و متنفذین ولسوالی خاک افغان ولایت زابل و ولسوالی جاغوری ولایت غزنی، دیدار کرد.
در این دیدار که در ارگ انجام شد و شیخ محمود ذاکری رئیس امور سیاسی و مردمی نیز حضور داشت، ابتدا عبدالمتین اخندزاده، عبدالنبی و حاجی عبدالحمید به نمایندگی از دیگران صحبت کردند و خواستار توجه ویژه به کارهای بازسازی در ولسوالی خاک افغان شدند.
آنان مشکلات و پیشنهادات شان را در رابطه به برق، مهار آب ها، ساخت پل، پلچک و سرک، توجه به مکاتب و مدارس، توسعه زراعت و ایجاد کلینیک ها مطرح کردند.
سپس انجینر عبدالخالق و حاجی حفیظ الله از همکاری مردم ولسوالی جاغوری به امارت اسلامی اطمینان دادند و پیشنهادات شان را در مورد تکمیل پروژه های نیمه تمام و ارتقاء کلینیک ها مطرح نمودند...


۵

# پروژه تولید ۱۰۰ کیلووات برق آفتابی در ولایت پکتیکا به بهره برداری سپرده شد



پروژه تولید ۱۰۰ کیلووات برق آفتابی در ولسوالی زرغون ولایت پکتیکا در حضور مسئولان محلی به بهره برداری سپرده شد.
این پروژه تحت چتر ریاست آب و انرژی ولایت پکتیکا و به همکاری ریاست صنعت و تجارت این ولایت از سوی یک شرکت خصوصی تطبیق گردیده است.

# په ننګرهار ولايت کې د اوبو رسولو دوه شبکې ګټې اخيستنې ته وسپارل شوې



۵

# بیش از ٦۴ میلیون افغانی به متضررین زمین‌های استملاکی خط آهن هرات - خواف پرداخت شد

۵

# دیدار رئیس عمومی دفتر مقام ریاست الوزراء با مسئولین اتحادیه پوهنتون های خصوصی

محترم داکتر ملا عبدالواسع رئیس عمومی دفتر مقام ریاست الوزراء با مسئولین و اعضای اتحادیه پوهنتون های خصوصی کشور، دیدار کرد.
در این دیدار که در ارگ انجام شد و شیخ محمود ذاکری رئیس امور سیاسی و مردمی نیز حضور داشت، ابتدا احمدجان پوپل رئیس اتحادیه پوهنتون های خصوصی و پوهندوی دوکتور خالد احمد حبیب به نمایندگی از دیگران صحبت کردند و مشکلات، خواست ها و پیشنهادات شانرا در زمینه های توزیع زمین به پوهنتون های خصوصی در مرکز و ولایات، کاهش در قیمت مصرف برق، معافیت جواز صنفی شاروالی، تخفیف مالیه در حد امکان و ایجاد اتاق خاص برای سکتور تحصیلی و تعلیمی شریک ساختند...

۲